د ملګرو ملتونو د دفترونو او بنسټونو استازو د جبري مهاجرینو لپاره د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او د مهاجرینو لپاره د ښه حل لپاره یې خپله ژمنه څرګنده کړه.

ښاغلي راشد د دوی د کارونو د ستاینې په ترڅ کې د دوی د فعالیتونو په برخه کې د اسانتیا رامنځته کولو او د دولت او دوی ترمنځ د لا همغږۍ په برخه کې د اسلامي امارت د همکارۍ ژمنه څرګنده کړه.



## د وزارت د ستراتیژۍ د طرحې د نهایي کولو په موخه ناسته وشوه

د مهـــــــاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د پنځه کلنې ستراتیژۍ د طرحې وروستۍ ناسته د وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ د مرغومي ۱۹مه د یو شمېر مرکزي رییسانو په شتون کې وشوه.

په غونډه کې د وزارت مسلکي معین د هغې د بیا کتنې او نهایي کولو په موخه وویل: د راتلونکو پنځو کلونو لپاره باید یوه داسې ستراتیژي ترتیب او جوړه شي، چې ټولو اړخونو ته د منلو وړ وي.

د مهاجرینو وزارت مرکزي رییسانو د یادې موضوع په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه وړاندې کړل.

د وزارت د ستراتیژۍ مسوده به د وزارت د مقام په لارښوونه او د ملي او نړیوالو همکارو بنسټونو تخنیکي نظرونو ته په کتو د ۱۴۰۳ څخه تر ۱۴۰۷ کلونو لپاره ډېر ژر بشپړه شي.



## معین مسلکی وزارت، از کمپ های موقت در ولایت قندهار بازدید کرد

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان ورئیس کمیته اسکان موقت، در سفر خود به ولایت قندهار از کار ساخت کمپ های موقت، اتاق های انتظار، تشناب و سایر تأسیسات برای مهاجران عودت کننده و از کار کمیته های مرتبط در و لسوالی های سپین بولدک و تخته پل آن ولایت به تاریخ ۱۳ دلو بازدید کرد.

آقای راشد همچنین با کارمندان آمریت سرحدی امور مهاجرین ولسوالی سپین بولدک دیدار و مشکلات آنان را شنیده و از راه حل آن به ایشان اطمینان داد.




## د وزارت مسلکي مرستیال د وارچایلډ موسسې له مرستیال سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د سلواغي ۱۷مه په خپل کاري دفتر کې د وارچایلډ موسسې له مرستیال او د پروګرامونو له مسوول ښاغلي ون سنت سره ولیدل.

په دې لیدنه کې په هېواد کې د ماشومانو لپاره د دغې اداري د خدمتونو او فعالیتونو د برابرولو په اړه خبرې وشوې.

محترم راشد د اسلامي امارت د اصولو او قوانینو په رڼا کې د یادې اداري د پروژو په ښه تطبیق کولو ټینګار وکړ.

ښاغلي ون سنت د دې اداري د راتلونکو پلانونو د پلي کولو لپاره له وزارت سره د همکارۍ او همغږۍ ډاډ څرګند کړ.



## معین مسلکی وزارت؛ با سرپرست سازمان جهانی خوراک ملاقات نمود

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، با آقای هیرالد منهارت معاون و سرپرست سازمان جهانی خوراک وهیات همراه وی، دردفترکارش بتاریخ ۲٤ دلو ۱٤۰۲ ملاقات نمود.

در این ملاقات که شماری از روسای مرکزی وزارت و آمرین نیزحضورداشتند روی مشکلات مهاجرین، تشخیص آنان در پروسه کمک و فعالیت نهاد متذکره مطابق به پالیسی امارت اسلامی بحث شد.

معین مسلکی وزارت، از ارایه کمک های نهاد مذکور برای برگشت کننده گان اجباری در کشور قدردانی نمود.

آقای منهارت، ازمشکلات یاد آوری نموده گفت: منابع ما درمحدودیت قرارداشته کوشش مینمایم با منبع دست داشته به قشر آسیب پذیر و نیازمند کمک کنیم که در این راستا همکاری وزارت را نیز خواهانیم.

آقای راشد گفت: شماری زیادی از مهاجرین افغان از کشور های همسایه برگشت نموده که آنان به کمک های بشری نیازمند اند، وی خواهان همکاری سازمان جهانی خوراک برای آنان شده از همکاری ادارات ولایتی با آن سازمان اطمینان داد.

معین مسلکی وزارت در رابطه به اشخاص که دست به تگدی گری زده اند نیزاز وی خواهان همکاری شد.

مولوی سردارشیرزاد، رئیس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی گفت: طوریکه بهتر میدانید مردم زیادی از اثر حوادث مختلف بیجاشده اند، وظیفه امارت و وزارت این است که آنان را دو باره به محلات اصلی شان برگردانند در مورد انتقال آنان

با نهاد های ذیربط صحبت صورت گرفته درحصه ارایه کمک خوراکی برای آنان توجه شما را خواهانم.

وی همچنین درمورد بیجاشده گان که در زمین های کانال ولایت ننگرهار بود وباش دارند نیز خواهان همکاری سازمان متذکره شد.

مولوی شمال خان مصلح، رئیس تثبیت راه حل های دایمی وزارت افزود، برای دریافت راه حل برای بیجاشده گان اقدام لازم صورت گیرد، تا آنان به خود کفایی رسند، با جامعه جهانی صحبت نماید تا کمک بشری را با مسایل سیاسی مرتبط ندهند.

آقای منهارت بیان داشت، مابا اشخاص آسیب پذیر کمک میکنیم، در هماهنگی با سازمان بین المللی مهاجرت و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان همکاری داریم و ما به کمک خویش به عودت کننده گان ادامه میدهیم.

وی گفت: در مورد دریافت راه حل دایمی با شرکای خویش صحبت خواهیم نمود، و در استراتیژی آینده خویش مسایل کمک های دراز مدت، تعلیمات حرفوی و تغیر اقلیم را در نظرخواهیم گرفت.

استو وارت کنت مسوول کمک های اضطراری آن سازمان گفت: به کمک خویش در سرحدات ادامه داده نظر به افزایش تعداد برگشت کننده گان ظرفیت آن را بالا خواهیم برد، نظربه محدودیت منابع، موضوعات را هماهنگ خواهیم ساخت، و ما در این راستا آماده همکاری هماهنگی به اساس هدایت مقامات دولت هستیم.

قاری احمد الله هاشمی، رئیس امور مهاجرین ولایت کابل که در این ملاقات نیز حضور داشته، خواهان تسریع روند کمک آن نهاد به مهاجرین شد.

هردوجانب برایجاد تیم های تخنیکی جهت تثبیت مستحقین،همکاری و هماهنگی های بیشتردر آینده تاکید نمودند.



## د وزارت مسلکي مرستیال د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ له رییس سره وکتل

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پناه غوښتونکو د عالي کمیشنرۍ له رییس ښاغلي لیونارد زولو سره د سلواغې ۳۰مه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې د پخوانیو پروژو په برخه کې د وزارت او دغه کمیسیون ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ په اړه خبرې وشوې.

د وزارت مسلکي مرستیال په همکارۍ، د تعهداتو په پوره کولو، د دواړو لورو تر منځ د باور په لا زیاتولو، د ستونزو په حل او له دغه کمیسیون څخه د خدمتونو په وړاندې کولو باندې ټینګار وکړ.

ښاغلي زولو له دغه کمپسیون سره د دغه وزارت د همکارۍ او همغږۍ ستاینه وکړه او په راتلونکي کې یې هم له خپلو همکارانو سره په بېلابېلو برخو کې د دغې ادارې د ملاتړ ډاډ ورکړ.

په دې لیدنه کې د وزارت د مقام دفتر، د پلان او پالیسۍ، د مرستو د همغږۍ او د داخلي بې ځایه شویو رئیسانو هم حضور درلود.



## معین مسلکی، با مسوول برنامه ردیابی بیجاشده ها سازمان بین المللی مهاجرت، ملاقات نمود

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با آقای داکتر یاسین الحمدانی مسوول برنامه ردیابی بیجاشده های(DTM ) سازمان بین المللی مهاجرت در افغانستان،در دفتر کاری اش بتاریخ ۳دلو۱۴۰۲ ملاقات نمود.

معین مسلکی وزارت، از همکاری و ارایه کمک آن سازمان

در قبال برگشت کننده گان اجباری قدردانی نموده و خواهان ادامه آن در آینده نیز شد.

یاسین الحمدانی، در مورد برنامه رد یابی بیجاشده ها معلومات ارایه نموده گفت: این برنامه ساحات را که بیجاشده گان میباشد ارقام، تعداد، معلومات جامع و مشکلات آن را مشخص خواهد کرد، هدف آن مشخص نمودن ضروروریات و همکاری با جامعه و حکومت در ارایه کمک به مستحقین بوده و تسهیلات را ببار میاورد، که در شماری از کشورها صورت گرفته و راه حل دایمی را نشان میدهد.

وی گفت: این برنامه کمک میکند که خانواده ها چگونه کمک شده، آیا تغیرات در زنده گی شان ایجادشده یا نه بلکه در جهت پیدا نمودن یک را حل دایمی برای بیجاشده ها نیز موثر است.

آقای راشد گفت: در مجموع یک نهاد این فعالیت را انجام داده و سپس نهاد های دیگر در تشریک مساعی با یک دیگر در راستای رسیدن به اهداف آن که همانا کمک و مساعدت به مستحقین میباشد همکاری نمایند.

وی بیان داشت: مطابق به اصول و پالیسی حکومت با شما همکاری خواهیم نمود، هر نهاد و یا موسسه باید در تفاهم و هماهنگی با وزارت امور مهاجرین فعالیت خویش را به انجام رساند تفاهم نامه تعامل و یا میکانیزم باشد، میان وزارت و نهاد که کمک و یا سروی مینماید هماهنگی کامل وجود داشته باشد.

یاسین الحمدانی افزود، چگونگی نوع فعالیت خویش را با وزارت شریک ساخته ودر هماهنگی کامل میتوانیم با هم همکاری نمایم و به اهداف برسیم.

در این ملاقات روسای دفتر مقام، پالیسی و پلان و تحقیق و معلومات مهاجرین وزارت نیز حضور داشتند.



## د راستنیدونکو او کډوالو ستونزو د حل په موخه د ولسوالیو په کچه د ارزونې پلان ناسته وشوه.

د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو د اړتیاوو د پوره کولو په موخه د هراړخیز پلان په اړه مشورتي ناسته د ۱۴۰۲ لمریز کال د کب په ۱۰ مه نېټه د اقتصاد، مالیې، کرنې او ښار جوړونې وزارتونو د استازو په شتون کې وشوه.

د وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد وویل، له یو بل سره د ګډو هڅو په همغږۍ او همکارۍ یې له یو بل سره په منظم پلان کار کړی، چې په راتلونکي کال کې د یوه منظم پلان له مخې د راستنیدونکو او کډوالو ستونزې هوارې شي.

د یادو ادارو استازو هم خبرې وکړې او د ګډې همکارۍ د پلان په نهایي کولو یې ټینګار څرګند کړ.



## معین وزارت امور مهاجرین، با مشاور ارشد پارلمان کشور آلمان ملاقات نمود

مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با پروفیسور هنس دوبه مشاور دو کمیسیون نظارت پارلمان کشور آلمان بر افغانستان، و هیات همراه وی در دفتر کارش بتاریخ ۱۷ حوت ۱۴۰۲ ملاقات نمود.

آقای دوبه گفت: هدف من از سفر در کشور افغانستان دیدن واقعیت ها از نزدیک بوده و انتقال آن به مردم آلمان و آگاه ساختن اذهان عامه در مورد حقیقت در این کشور است، بسیاری از شبکه ها در آلمان علاقمند این است تا با من مصاحبه نموده و حقایق افغانستان را بیان نمایم، من تشویق مینمایم که مردم بیایند و این کشور زیبا را از نزدیک مشاهده نمایند.

وی گفت: هزاران تن بعد از تحول سال ۲۰۲۱ به آلمان پناهنده شده اند، آنها میگویند که زنده گی شان در خطر بوده و زیر تهدید است، از این تعداد پناهنده گی شماری شاید قبول شود اما

شماری دیگر شاید به ترک آلمان مجبور گردند.

پروفسیور دوبه افزود، پیام تان را به پارلمان برلین انتقال خواهم داد؛، مسوولین دولتی و مردم آلمان را معتقد خواهیم نمود و حقایق و چشم دید را برای آنان بازگو خواهم نمود تا با شما همکاری نمایند.

در این ملاقات روسای دفتر مقام و پالیسی و پلان وزارت نیز حضور داشتند.

معین مسلکی افزود، خوشحال هستم که شما حقایق را از نزدیک دیده و آن را انعکاس دهید تا مردم در خارج از کشور بیشتر آگاه شوند، امارت اسلامی بعد از فتح فرمان عفو عمومی را اجرا نموده هیچ کس مورد آزار و اذیت قرار نمیگیرد.

ما مطابق به اصول شریعت کار میکنیم، هیچ وقت خلاف اوامر امیر خویش کار نکرده، و هیچ کس مورد آزار و اذیت قرار ندارد.

آقای راشد گفت: از حکومت آلمان میخواهیم که افغان های مهاجر را جبراً اخراج ننموده و اگر انان داوطلبانه برگشت مینمایند ما از آن ها استقبال نموده و مورد حمایت قرار خواهیم داد و همکاری دولت آلمان را در این راستا خواهان هستیم.

پروفسیور دوبه افزود، پیام تان را به پارلمان برلین انتقال خواهم داد؛، مسوولین دولتی و مردم آلمان را معتقد خواهیم نمود و حقایق و چشم دید را برای آنان بازگو خواهم نمود تا با شما همکاری نمایند.

در این ملاقات روسای دفتر مقام و پالیسی و پلان وزارت نیز حضور داشتند.



## د وزارت مسلکي مرستیال د ایران له یو شمیر سوداګرو سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د ۱۴۰۲ کال د کب د میاشتي په ۱۷ نیټه په خپل کاري دفتر کې له یو شمیر ایراني سوداګرو سره ولیدل.

مسلکي مرستیال هغوی ته له ښه راغلاست ویلو وروسته وویل: زموږ هیواد په دې وروستیو کلونو کې له ډېرو ستونزو سره لاس او ګریوان دی او د اسلامي امارت راتلو سره موږ ته د پرمختګ او ترقۍ پر لور د تګ لپاره زمینه برابره شوې ده او د افغانستان اوبه د هر ډول کښت او زراعت لپاره مناسبي دي.

اوس د دې وخت دی چې لاسونه سره یو کړو او د خپلو مهاجرینو لپاره کار وکړو، چې دوی له بهرنیو هیوادونو څخه راستانه شي او د کار زمینه ورته برابره شي.

ښاغلي راشد له هیواده بهر د افغانانو د کډوالۍ یو لامل بېکاري او اقتصادي ستونزې وبللې.

سوداګرو وویل: موږ کار کوو چې افغان کډوال هیواد ته راستانه شي، دوی ته د کار لپاره مناسب چاپېریال او اسانتیاوې برابرې کړو او کرنې ته یې وهڅوو.

هغوی زیاته کړه؛ موږ کولای شو له یو بل سره په کار او همغږۍ سره ستونزې حل کړو.



## به ارزش بیش از ۱۶ میلیون دالر امریکایی، تفاهم نامه های همکاری میان وزارت امور مهاجرین و ۲۴ موسسه امضا شد

به ارزش ۱۶ میلیون و ۵ صدو ۴۸ هزارو ۹۰۹ دالرامریکایی، ۲۴ تفاهم نامه همکاری میان وزارت امورمهاجرین وعودت کننده گان وموسسات تعلیم برای اطفال وزنان افغان، خیریه بشری، اجتماعی وانکشاف اقتصادی بنیاد زنده گی، حمایت ازمعارف، اکشن اید، اجتماعی وانکشافی راه نوین، شورای مهاجرت ناروی، شلترنوانترنشنل، احیای صحت وجامعه افغانی، تساوی جندر، انکشاف ملی آجنداوهیت معاونت بین المللی، WARCHICD، داکار، احیای صحت وجامعه افغانی، شورای مهاجرت دنمارک،

حمایه اطفال، احیای مجدد انصاری، توانمند سازی جامعه ، پژوهش علمی ، توسعه جامعه، خدمات اجتماعی جهان در آسیا، موسسه کانادایی برای اطفال متاثر از جنگ، بشری صلح سازان وJRS طی سه ماه (جدی ،دلو ،حوت) سال ۱۴۰۲ به امضا رسید.

موسسات متذکره که تفاهم نامه را به امضاً رسانیده اند، در بخش های توزیع البسه زمستانی ،کمک نقدی، پرداخت کرایه خانه، آموزش های حرفوی، تعلیم و تربیه، مشاوره حقوقی، ایجاد محل ورزشی، توزیع مواد خوراکی، توزیع بسته های صحی، تهیه مواد ساختمانی، احیای صحت و جامعه افغانی، تساوی جندر، مواد محروقاتی، راه اندازی فارم های کوچک مرغداری، تدویرمهارتهای کاروبار، حفرچاه، توزیع فلترهای ریگی ، اعمار بیت الخلا، تدویر خریطه های پلاستیکی برای دفع زباله ، خریداری ریجمت جهت آزمایش کیفیت آب، ساخت کلینیک، گلخانه، آموزش قابله گی، اعمار پیاده روها، سیستم آبیاری و ترمیم شبکه آبرسانی، اعمار تعمیر ۲۴صنفی، ایجاد مرکز قالین بافی، توزیع وسایل پشم ریسی، نجاری و آموزش کمپیوتر،احداث دیوار استنادی و ساخت سرک کانکریتی در ولایات، کابل، سرپل، هرات، ننگرهار، نمیروز، بدخشان ، پروان، بادغیس ، لغمان ، کنر،پنجشیر،میدان وردک و لوگر ارائه خدمات می نمایند.

تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت و نماینده های موسسات یاد شده به امضا رسید.



## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري د مرکزي زون د دفتر له رییسي سره وکتل.

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږي کوونکي اداري د مرکزي زون دفتر له مشرې میرمن ګلوریا لازیک سره د کب ۱۹مه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې ناسته کې خپلو اصلي ځایونو ته داخلي د بې ځایه شویو کسانو د لېږد پر موضوع خبرې وشوې.

مسلکي مرستیال زیاته کړه، چې د طبیعي پېښو او وچکالۍ له امله یو شمېر کورنۍ بېځایه شوې، چې اوس مهال شرایط ورته برابر دي، چې بېرته خپلو اصلي ځایونو ته ستانه شي او په کابل ښار کې زرګونه کورنۍ په خپله خوښه دې ته اماده دي، چې د مرستندویه بنسټونو او مؤسسو په همکارۍ بېرته خپلو اصلي ځایونو ته ستنې شي او حکومت کولی شي خپل پرمختیایي پلانونه پلي کړي.

ښاغلي راشد وویل: په ټول هیواد کې لسګونه زره کورنۍ خپلو اصلي ځایونو ته انتقال ته چمتو دي.

میرمن ګلوریا لازیک په دې کتنه کې د مسلکي مرستیال څخه پر مننې سربېره زیاته کړه، موږ کولای شو د یو بل سره په تفاهم کې بې ځایه شوې کورنۍ خپلو اصلي ځایونو ته انتقال کړو او په دې برخه کې د نورو همکارو بنسټونو په ګډو هڅو سره کولای شو د هغوی له پاره دایمي حل لاره ولټوو.



## رئیس دفتر مقام وزارت، با معاون و سرپرست کمیشنری ملل متحد دیدارنمود

قاری محمد اجمل ویار، رئیس دفتر مقام وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، با آقای جلو اس معاون و سرپرست کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان و هیات همراه وی در دفتر کارش بتاریخ ۳جدی ۱۴۰۲ دیدار نمود.

در این بازدید پیرامون برگزاری نشست های سه جانبه و

چهار جانبه و کمک رسانی به نیازمندان به صورت شفاف از سوی نهادهای کمک رسان درمرکز و ولایات بحث وتبادل نظر شد.

آقای ویارگفت: ما آماده برگزاری نشست سه جانبه میان (افغانستان، پاکستان و کمیشنری ملل متحد) و همچنان نشست سه جانبه دیگر (افغانستان، ایران و کمیشنری ملل متحد) هستیم و همچنان برای یک نشست چهار جانبه (افغانستان، ایران، پاکستان و کمیشنری ملل متحد ) آماده می شویم.

آقای جلو اس، با تاکید بر تشکیل هر چه سریعتراین جلسات با مشخص نمودن مکان، زمان و دستور کار این جلسات، وعده داد که در ولایات نیز جلساتی با نمایندگان برخی ازموسسات کمک رسانی در مورد شفافیت بیشترکمک ها خواهد داشت.

همچنان در این دیدار درمورد آزار واذیت مهاجرین افغان در پاکستان و بازگشت آنها به کشور بحث شد.

آقای جلوس افزود که ما در برابر مهاجرینی که آزار و اذیت میشوند و یا در کشوری مورد ظلم قرار می گیرند سکوت نمی کنیم صدای آنها را به گوش مقامات بالاتر می رسانیم.

در این جلسه روسای پالیسی و پلان، حمایت حقوقی و تشویق به عودت وزارت نیز حضور داشتند.



## د وزارت د راستنېدني رييس په افغانستان کې د IFRC موسسې له عملياتي مدير او د سرې مياشتي رييس سره وليدل

د مهاجرينو چارو د راستنېدني او بيا مېشتېدني ريس مولوي شاکرالله شاکر د سرې مياشتې رئيس محمد صالح اخوند زاده او د سره صليب اوسرې مياشتي تولنو نړيوال فدراسيون عملياتي مدير ښاغلي راد الحديد سره ليدنه وکړه.

په دې ليدنه کې د دواړو اړخونو ترمنځ له پاکستان څخه په جبري توګه راستنېدونکو ته د بشري مرستو په وړاندې کولو بحث وشو.

ښاغلي شاکرداجباري راستنېدونکو شمېر چې له نارسمي پولو څخه هېواد ته راستنېږي له هغوی سره شريک کړ او ويې ويل: تراوسه زرګونه کورنۍ له نارسمي پولو څخه راستنې شوې دي او ښايي راتلونکې کال په دې شمېر کې نور زياتوالی هم راشي.

ښاغلی راد الحديد له پاکستان څخه په جبري توګه د راستنېدونکو په برخه کې د ښه مديريت له امله د اسلامي امارت د رهبرۍ او مهاجرينو چارو وزارت هڅې وستايلې او په راتلونکې کې يې د خپلو ملاتړو په همکارۍ د مرستو د وړاندې کولو ژمنه څرګنده کړه.

دغه راز جانبين هم پر همغږۍ او لا نورو مرستو ټينګار وکړ.

په دې ليدنه کې د داخلي بې ځايه شوو وضعيت ته د رسيدنې رئيس مولوي سردار شيرزاد هم ګډون درلود.



## اعضای ریاست پیگیری و نظارت برفرامین و دستورات، با روسای وزارت امور مهاجرین جلسه هماهنگی برگزار نمودند

نشت هماهنگی رئیس مصونیت اجتماعی، ریاست عمومی پیگیری ونظارت براحکام و دستورات امیرالمومنین، وهیات همراه وی، با رؤسا مرکزی و آمرین مستقل وزارت امور مهاجرین وعودت کنندگان، بتاریخ ۲۸ جدی، درسالون کنفرانس های وزارت برگزارشد.

قاری محمد اجمل ویار، رییس دفتر مقام وزارت امور مهاجرین ضمن خوش آمد گویی به مسوولان آن اداره گفت: همه نهادهای امارت اسلامی با تعهد کامل برای خدمت به مردم وکشورشان تلاش می کنند.

ما متعهد به هماهنگی و همکاری با همه نهاد ها هستیم و

درهمه امور براساس فرامین و دستورات رهبرمان امیرالمومنین حفظ الله پیش میرویم.

مولوی عبدالحکیم حکمت رئیس هیئت متذکره گفت: ما به منظور آگاهی و هماهنگی از اداره خود به شما مراجعه کرده ایم ، اداره ما برای پیروی و نظارت برفرامین و دستورات جناب امیرالمومنین شیخ هبت الله ایجاد شده است.

و ما در پیگیری و نظارت بر فرامین امیرالمومنین با تمامی ارگان ها همکاری می کنیم.

وی افزود که با هماهنگی و تلاش مشترک با شما کارمی کنیم که طبق احکام وفرمایشات امیرالمومنین امور در نهادها پیش برود وشفافیت وتعهد درکل برقرار شود.

رییس دفتر وزارت و سایرمسئولان باحضور به هیئت آن اداره از همکاری در زمینه ابرازاطمینان نموده و برهماهنگی دو طرف تاکید کردند.



## راتلونکي کې د بې ځایه شویو د لېږد په اړه ګډه ناسته وشوه

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د استازو ترمنځ د سلواغي پر دویمه نېټه خپلو اصلي مېنو ته د بې ځایه شویو کورنیو د لېږد په اړه ګډه ناسته وشوه.

د دې ناستې موخه د پوهاوي لوړول او د بې ځایه شویو د لېږد ځرنګوالی، په راتلونکي کې د مرستو برابرول او په دې برخه کې د هغې اداري همکاري وه.

د وزارت د داخلي بې ځایه شویو وضعیت ته د رسېدني رییس مولوي سردار شیرزاد وویل: اوس د هېواد په ټولو سیمو کې امنیت ټینګ شوی، اسلامي امارت او د مهاجرینو چارو وزارت غواړي چې د دوی د لېږد په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي او پخپله خوښه راستنیدنه کې ورسره مرسته وکړي.

هغه وویل: ۷۰ زره کورنۍ خپلو اصلي ځایونو ته د ستنېدو لپاره چمتو دي او له دې جملې څخه ۴۳ زره کورنیو د غوښتنلیکونو فورمې ترلاسه کړې دي.

هغه دغه راز وویل چې، له څو کلونو راهیسې په هېواد کې د جګړو او طبیعي پېښو له امله شاوخوا درې میلیونه کسان بې ځایه شوي دي.

شیرزاد زیاته کړه: په کابل ولایت کې ۸ زره او ۲۳۰ کورنۍ خپلو اصلي ځایونو ته د ستنېدو لپاره چمتو دي.

د کمیسیون استازو وویل: موږ کولای شو دا ستونزه له یو بل سره په همکارۍ او همغږۍ حل کړو

هغو په راتلونکي کې د بې ځایه شویو د لېږد د ځرنګوالي په اړه د معلوماتو له ترلاسه کولو وروسته، د خپلې اداري همکاري څرګنده کړه او ویې ویل: موږ به دا موضوع له ملاتړ کوونکو او همکارانو سره شریکه کړو.

دواړو لوریو په راتلونکي کې پر لا زیاتې همکارۍ او همغږۍ ټینګار وکړ.



## رئیس حمایت حقوقی وزارت، بامسوولان سازمان بین المللی توسعه حقوق دیدار کرد

الحاج غلام نبی الله داد خیل ستانکزی، رئیس حمایت حقوقی وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان با آقای عصمت الله څدران مسوول ارتباط خارجه سازمان بین المللی توسعه حقوق وهیات همراه وی، بتاریخ ۴ دلو در دفتر کارش دیدار نمود.

در این دیدار در مورد حمایت از حقوق مهاجرین افغان بین طرفین بحث شد.

آقای ستانکزی گفت: حمایت از حقوق مهاجرین افغان یک

اصل اساسی وانسانی بوده و در این مورد باید به جهانیان انعکاس یابد تا مهاجرین افغان از آن مستفید گردند.

وی افزود، درمحابس کشورهای همسایه افغان های مهاجر بدون داشتن کدام جرم زندانی بوده، لازم است تا همکاری صورت گرفته و به حقوق آنها رسیده گی شود، همچنان وی ازآنان خواست تا کمک های نقدی برای عودت کننده گان که ازطریق میدان هوایی کابل برمیگردند ازجانب سازمان بین المللی مهاجرت نیزافزایش یابد.

آقای ځدران گفت: فعالیت و کار کرد این وزارت را طی چند ماه گذشته ارزیابی نموده ایم، وما درصدد ارایه کمک بیشتر در راستای حقوق مهاجرین افغان بوده و کوشش مینمایم تا پیام وزارت امور مهاجرین وافغان های مهاجر را به سمع جهانیان برسانیم.

هردو جانب برهمکاری های بیشتر درآینده تاکید ورزیدند.



## د مرستو د همغږۍ کمېټې رییس د ژغورنې نړیوالې کمېټې د ماشومانو د ساتنې څانګې له جګپوړي همغږي کوونکي سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د مرستو دهمغږۍ رییس شیخ عبدالرحمن رحماني د ژغورنې نړیوالې کمېټې د ماشومانو د ساتنې څانګې له جګپوړي همغږي کوونکي ښاغلي کیون موراتي او مل پلاوي سره د سلواغي پر څلورمه نېټه ولیدل

په دې لیدنه کې د وزارت او د یادې اداري ترمنځ د اړیکو او همغږۍ د لا ښه والي او پیاوړتیا په اړه، د وزارت د لومړیتوبونو څرنګوالي پام کې نیولو، د لا همغږۍ او پیاوړتیا او پراخولو په موخه د دغې کمېټې د نویو پروژو پلاننونو او ستونزو ته رسېدنې په اړه څرګندونې وشوې ښاغلي رحماني وویل: زموږ هدف خلکو ته خدمت دی.

اړمنو او مظلومو خلکو سره باید مرسته وشي، له ګاونډیو هېوادونو څخه په جبري توګه راستنېدونکو کې بوډاګان، ناروغان او ماشومان شامل دي چې بنسټي خدمتونو ته اړتیا لري.

هغه زیاته کړه، افغانان له څلورو لسیزو راهیسې په ګاونډیو هېوادونو کې مېشت وو، خوئ اوس په زوره راستانه کېږي او بشري مرستو ته سخته اړتیا لري

ښاغلي کیون موراتي وویل: د لومړنیو مرستو او لومړنیو خدمتونو د برابرولو په پار د مستحقو کسانو د شمېر په راټولولو کولای شو له وزارت سره په همکارۍ او همغږۍ سره د پروژو په پراخولو او پیاوړتیا کې ارزښتناکه ونډه واخلو.

هغه زیاته کړه، د ارزونې په پیلولو سره کولای شو، مستحق کسان وپېژنو، چې په راتلونکي کې زموږ له خدمتونو برخمن شي

د وزارت د ستراتیژیکو پروګرامونو آمر انجنیر اجمل چې په دې لیدنه کې یې ګډون درلود، وویل: مهاجرینو ته د کار په بدل کې مرستې ورکول کیږي، چې هغوی وهڅول شي او دا ډول پروګرامونه د دوی د کارموندنې او لاسنیوي په برخه کې ګټور دي.



## جلسه هماهنگی میان وزارت امور مهاجرین و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان غرض برگشت و انتقال بیجاشدگان به محلات اصلی برگزار شد

جلسه هماهنگی میان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان غرض برگشت وانتقال بیجاشدگان به محلات اصلی بتاریخ ۱۶دلو ۱۴۰۲ برگزارشد.

در جلسه خانم والري سوبودووا معاون تامین حقوق کمیشنری

عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان در افغانستان و هیات همراه وی، مولوی سردارشیرزاد رئیس رسیدگی به وضعیت بیجاشده گان داخلی وزارت حضور داشته و روی برگشت و انتقال بیجاشدگان به محلات اصلی شان بحث شد.

شیرزاد بیان داشت، این جلسه به تعقیب جلسه قبلی اتخاذ و هدف جلسه فراهم سازی زمینه انتقال و استقرار بیجاشدگان داخلی به محلات اصلی میباشد.

وی گفت: اولویت این وزارت انتقال بیجا شدگان که در شهر کابل در وضعیت نامناسب اکثراً در ملکیت های دولتی و عام المنفعه زیست می نمایند و مانع تطبیق پلان های انکشاف شهری گردیده است می باشد.

از ادارات ذیربط ملی و بین المللی خصوصاً کمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامور پناهندگان میخواهیم در این مورد وزارت امور مهاجرین را همکاری نمایند تا بتوانیم در هماهنگی و اشتراک هم زمینه انتقال و استقرار پایدار بیجاشدگان را فراهم نمایم.

همچنان افزودند مباحث و فیصله جلسه قبلی با مقام وزارت شریک گردیده است و مقام رهبری نیز در مورد طرح و پلان مشترک وزارت امور مهاجرین با دفتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان غرض انتقال و استقرار بیجاشدگان داخلی، موافقه نموده است.

شیزاد اضافه نمود، تاکید ما اینست تا قبل از اتمام مهلت تعین شده از سوی کشور پاکستان برای مهاجرین افغان تاه ماه مارچ ۲۰۲٤، باید بیجا شدگان داخلی ازشهر کابل به محلات اصلی شان انتقال داده شوند.

به همین ترتیب خانم والری سوبودووا معاون تامین حقوق کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان گفت: کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان منحیث پل ارتباطی بین نهاد های بین المللی و امارت اسلامی افغانستان میباشد و دریافت یک راه حل دایمی برای بیجا شدگان و مهاجرین برگشت کننده و ادغام مجدد آنها وظیفه مشترک ما است، با طرح و ترتیب پلان مشترک میتوانیم به اهداف خویش برسیم.

وی گفت: با همکاران خویش روی این موضوع بحث نمودیم و یک طرح در این مورد ترتیب داده ایم و الی دو هفته دیگر غرض ملاحظه به مقام وزارت تقدیم می نماییم، مسئله انتقال بیجا شدگان را با ادارات همکار نیز شریک ساخته ایم وهمواره سعی و تلاش می نمایم تا به وضعیت بیجاشدگان داخلی رسیدگی صورت گیرد.

رئیس رسیدگی به وضعیت بیجا شدگان داخلی بیان داشت: کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان نه تنها پل ارتباطی؛ بلکه نهاد هماهنگ کننده و اداره مسئول غرض رسیدگی به مشکلات و وضعیت بیجا شدگان، عودت کنندگان و مهاجرین میباشد.

خانم والری سوبودووا افزود، پلان اینست تا درمرحله اول بیجا شدگان در ۲ ولسوالی بصورت آزمایشی در مدت یک ماه سروی گردد و در مرحله بعدی پروسه سروی عمومی بیجاشدگان آغاز گردد که این روند درمدت ۳ الی ۴ ماه تکمیل خواهد شد و این برنامه ده ها هزار خانواده در صد ها محل در سراسر کشور تحت پوشش قرار میدهد. همچنان بیان داشت ما با یک شرکت افغانی قرارداد نموده ایم که کارمندان شان در مورد سروی تجربه دارد و در صورتی که وزارت امور مهاجرین اجازه فعالیت بدهد برنامه سروی را آغاز می نمایم.

شیرزاد افزود این وزارت امار و ارقام بیجاشدگان داخلی را از طریق واحد های دومی خویش جمع آوری نموده است که در این مورد خانم والری خواهان شریک سازی ارقام بیجاشدگان شد

وی گفت: همزمان با پروسه سروی خانواده ها، انتقال بیجا شدگان به محلات اصلی شان نیز صورت گیرد، ونماینده دفترکمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامورپناهندگان با این نظر موافقه نمودند.

شیرزاد افزود، در طرح و تطبیق برنامه سروی بیجاشدگان، نقش وزارت امور مهاجرین منحیث نهاد سکتوری و مسئول فعال و کلیدی درج گردد، در ختم جلسه چنین فیصله بعمل آمد.

پلان مشترک جهت انتقال بیجاشدگان از سوی وزارت مهاجرین و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان ترتیب گردد، بعد از اخذ موافقه مقام وزارت، آمار و ارقام بیجاشدگان میان ادارات ذیربط ملی و بین المللی یکسان سازی گردد، بعد از ترتیب طرح مشترک، سروی مجدد غرض تثبیت محلات اصلی بیجاشدگان، نیازمندی و علت بیجا شدگی آنها در هماهنگی وزارت و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان صورت گیردو نقش وزارت امور مهاجرین در طرح و تطبیق برنامه

سروی بیجا شدگان داخلی فعال و کلیدی درج گردد.



## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو په وزارت کې د نبوي سیرت ازموینه واخیستل شوه

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سیرت ازموینه د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د معلوماتو او څېړنو ریاست له لوري د سلواغي ۳۰مه د یو شمېر کارمندانو په ګډون ترسره شوه.

د وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مدرس مفتي فریدالله حقاني په دې خپرونه کې وینا وکړه او ویې ویل: هغه څوک چې زه یې په اړه خبرې کوم په حقیقت کې حضرت محمد (ص) دی، هغه د دوزخ له اور څخه د خپل امت د خلاصون لپاره خدای ته ډیرې زارۍ کړې، هغه(ص) د خپلې کورنۍ په پرتله له امت سره ډیره مینه درلوده، د خدای او د هغه د رسول مینه سره لازم او ملزوم دي .

مفتي حقاني وویل، د دې ډول ازموینو پیلول زموږ د پیغمبر(ص) د اخلاقو او ښه چلند ښودنه کوي.

د مهاجرینو له پاره د معلوماتو او څیړنو رئیس قاري صابرګل مصلح هم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سیرت د لوستلو او مطالعې پر اهمیت خبرې وکړې.

د اطلاعاتو اوعامه اړیکو ریاست د عامه اړیکو آمر عرفان همت ګډونوالو ته د ازموینې د ورکولو او اخیستلو د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړل او زیاته یې کړه: د دې ازموینو ګټونکو ته جایزې او ډالۍ هم په پام کې نیول شوي دي.

د دې سیالیو د ترسره کولو موخه د اسلام د ستر پیغمبر (ص) د ژوند په اړه د لا زیاتو معلوماتو ترلاسه کول دي.



## ورکشاپ دو روزه آگاهی از قوانین موجوده در وزارت امور مهاجرین برگزار شد

ورکشاپ دو روزه آگاهی از قوانین موجود برای روسای مرکزی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در تالار کنفرانس های وزارت بتاریخ ۲حوت ۱٤۰۲ برگزار شد.

این ورکشاپ به همکاری ریاست منابع بشری وزارت تدویر و هدف آن بالا بردن بیشتر سطح آگاهی روسای مرکزی وزارت در عرصه قوانین، اجراات بهتر و تطبیق آن برای بهبود امور اداری در اداره است.

در روز اول این ورکشاپ در مورد ارزیابی اجراات و تشکیلات و در روز دوم در مورد قانون کارکنان خدمات ملکی، مقرره امور ذاتی کارکنان و قانون کار با ارایه پریزنتیشن از جانب نماینده ریاست منابع بشری برای شاملین تشریح خواهد شد.



## نشست هماهنگی، جهت انتقال بیجاشده گان در وزارت امور مهاجرین برگذار شد

نشست هماهنگی جهت انتقال بیجا شده گان به محلات اصلی شان، با حضور نماینده های ادارات سازمان بین المللی مهاجرت و هماهنگ کننده کمک های بشری سازمان ملل متحد در افغانستان

در ریاست بیجا شده گان داخلی بتاریخ ۲حوت ۱۴۰۲ برگزارشد.

مولوی سردارشیرزاد رئیس رسیدگی به وضعیت بیجاشده گان داخلی گفت: حدود سه میلیون بیجاشده داریم اولین کارامارت اسلامی این بود که خانواده های که داوطلب میباشند به محلات اصلی شان انتقال دهد.

وی افزود، فعلا زمینه مساعد است که این خانواده ها را به محلات اصلی شان انتقال دهیم، ده ها هزارخانواده آماده برگشت به محلات اصلی شان هستند، تصمیم براین بود که سال گذشته آنان انتقال یابند اما بنابرمشکلات این کارصورت نگرفت.

شیرزاد بیان داشت،این یک مسوولیت بزرگ است وهدف نشست این است تا با همکاری وهماهنگی با یک دیگر درانتقال بیجاشده ها این مشکل را حل نمایم.

وی از کمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامورپناهنده گان نیزخواست تا درتشریک مساعی با شرکای کاری خویش در عرصه انتقال این خانواده ها همکاری لازم نمایند.

محمد خاطرزید، معاون وسرپرست ادارۀ هماهنگ کننده کمک های بشری سازمان ملل متحد درافغانستان افزود که آماده همکاری با وزارت امورمهاجرین دراین عرصه هستیم.

جتندرا بوهورا، نماینده سازمان بین المللی مهاجرت نیز درمورد ازهمکاری آن سازمان اطمینان داد.



## د وزارت د داخلي بې ځایه شویو د رییس په مشرۍ یو پلاوی د نورستان ولایت نورګرام ولسوالۍ تتین درې ته د غم شریکۍ او له زیانمنو کورنیو سره د مرستې په موخه سفر وکړ.

دغه پلاوي یاد ولایت ته د سفر پر مهال له مرستیال والي فیصل مختار، د نورستان او لغمان ولایتونو د کډوالو چارو رییسانو، د نورګرام ولسوال او یو شمېر نورو مسوولینو حضور درلود.

او دوی د ۱۴۰۲ کال د سلواغې پر ۳ مه د وزارت د سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د خواشینۍ پیغام هغو ته ډالۍ کړ.

مولوي شېرزاد وویل، زموږ موخه دا ده چې لومړنۍ مرستې چې جامې، خېمې او کمپلې په کې شاملې دي، دغه ولایت ته ولېږو او د یادې شوې پېښې د قربانیانو له کورنیو سره له نږدې وکتل شي.

مرستیال والي راغلي پلاوي ته د پورته یادو مرستو د ستاینې ترڅنګ بنه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، چې دا زموږ د ټولو مسوولیت دی چې د قربانیانو له کورنیو سره خواخوږي او همدردي څرګنده کړو.

پلاوی له سیمهییزو چارواکو سره یو ځای د یادې ولسوالۍ د نکره کلي ته لاړ، سیمه یې له نږدې وکتله، د فاتحې په مراسمو کې یې د قربانیانو له کورنیو سره دعا وکړه او له قومي مشرانو او علماوو سره یې ولیدل.

مرستیال والي وویل، د نکرې کلي خلک زیاتو مرستو ته اړتیا لري، دا یوه طبیعي پېښه وه، موږ او زموږ د امارت مسوولین په دې غم کې شریک یو، ولایتي اداره هڅه کوي، چې قربانیانو ته د ژوند لومړنۍ اسانتیاوې برابرې کړي.

مولوي شېرزاد وینا وکړه او د خپلې خواخوږۍ او ډاډ ګیرنې پیغام یې له هغوی سره شریک کړ او ویې ویل، موږ د محترم وزیر تر لارښوونې لاندې ستاسو خدمت ته راغلي یو.

ورپسې یو تن د علماوو په استازیتوب خبرې وکړې او له مرستیال والي څخه یې د مرستې له امله مننه وکړه او ویې ویل چې په سختو شرایطو کې د اسلامي امارت د ټولو مسؤلینو د همکارۍ له امله مننه کوي.

ورغلي پلاوي د هغوی د ستونزو له اورېدو وروسته وویل، موږ به په دې اړه مسؤلینو ته خبر ورکړو او هڅه به وکړو چې ستاسو لپاره د استوګنې یو مناسب ځای تیار کړو.

باید وویل شي، چې په مرستو کې ۶۰ خیمې، ۵۰۰ کمپلې، ۵۰۰ موزې، ۵۰۰ ګرمې جامې او ۲۰۰ جمپرونه شامل وو.

په دې دردناکه پېښه کې ۲۰ تنه شهیدان، ۳ تنه ټپیان او ۲۲ کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شوي دي.

## ۸۴ هزارو۴۰۰ خانواده ، در ولایات کمک شدند

۸۴ هزار و ۴۰۰ خانواده بیجاشده در ۲۸ ولایت کشورطی سه ماه (جدی ،دلو،حوت) ازطریق ریاست ها وآمریت های امور مهاجرین واحد های دومی وزارت امورمهاجرین مساعدت شدند.

برای هریک ازخانواده های مذکور که ازاثرجنگ و حوادث طبیعی در ولایات( ننگرهار، هرات، قندهار، بلخ، سمنگان، بامیان، جوزجان، بادغیس، لغمان، فاریاب، لوگر، تخار، هلمند، فراه، بغلان، بدخشان ،کندز، سرپل، خوست، غزنی، میدان وردک، ارزگان، پکتیا، پکتیکا، کاپیسا، نورستان،پروان ،غور) بیجاشده بودند، ادارات امورمهاجرین وعودت کننده گان آن ولایات باهمکاری شماری ازسازمان های مدد رسان بین المللی، بسته های مساعدتی شامل، نقدی، غذایی، البسه زمستانی، وسایل حرفوی، کمپل، سولرآفتابی، بالون گاز، بخاری، چوب سوخت ، وبسته های صحی را توزیع نمودند.




## له پاکستان څخه ۱۶ زره ۴۹۱ مهاجرین په جبري توګه راستانه شوي

په دریو میاشتو کې ۱۶ زره ۴۹۱ افغان مهاجرین د تورخم او سپین بولدک له پولو څخه هېواد ته راستانه شوي دي.

د ننګرهار ولایت د تورخم د سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، له یادي پولې څخه ۲۰۴۶ کورنۍ بېرته خپلو کورونو ته راستني شوي او د مهاجرینو اداري سره له نوم لیکنې وروسته د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ورپېژندل شوي دي.

او کندهار ولایت د سپین بولدک د سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، د ۶۲۶۴ کسانو په ګډون ۱۳۳۸ کورنۍ په جبري توګه هېواد ته راستني شوي دي.

د سپین بولدک د سرحدي آمر په وینا، دغه راستانه شوي کسان په تاکل شویو کمپټو کې له ثبت وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو کمېشنرۍ، د خوړو نړیوال سازمان او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوي.

او ۱۶۱ کسان چې د پاکستان له زندانونو خوشې شوي وو، په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي.

او د ګومارل شوې کمېټې لخوا هرې کورنۍ ته لس زره افغانۍ وېشل شوي.

## بیش از ۳۸هزار مهاجر افغان طور داوطلب و اجباری از ایران به وطن برگشت نمودند

۳۸ هزار و ۵۳۰ نفر مهاجر مقیم ایران درطی سه ماه (جدی ،دلو،حوت) از طریق مرز اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۱۱۲۳۴ نفر ایشان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیرعذایی را دریافت کردند.

۹۸۰ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی،۱۸۱۷ عدد سیمکارت طور رایگان ، برای ۶۸۸ خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.

و تعداد ۳۳۱۷ تن دیگر از خدمات صحی نیز بهره مند شدند.

## پاکستان څخه ۵ زره او ۹۶۳ جبري راستني شوي کورنۍ د هېواد په پولو کې د ګومارل شویو کمپټو له خدمتونو برخمنې شوي

د هېواد په پولو کې د جبري راستنېدونکو ستونزو ته د رسېدنې د عالي کمېسیون د دارالانشا د راپور له مخې، د ننګرهار، کندهار، پکتیا، پکتیکا او نیمروز ولایتونو په پولو کې ۵۴۴۱ کورنۍ او ۶۸۸۶ کسان له پاکستان څخه په درې میاشتو (مرغومي، سلواغې او کب) کې هېواد ته په جبري توګه راستانه شوي دي.

د ۱۷۵۴ کسانو په ګډون ۶۶۱ کورنۍ خپلو اصلي ځایونو ته لېږدول شوي او کرایه ورکړل شوې، ۱۱۸۵ کورنیو ته نغدي

مرستې ورکړل شوي، ۱۴۴۰ کورنۍ په موقتي کمپونو کې ځای پر ځای شوي دي، د ۹ زره ۲۸۶ کسانو درملنه شوې، ۴۴۳۸ سیم کارتونه، د پخو خوړو، د څښاک اوبه او د ژمنيو جامو کڅوړې د يادو ولايتونو په پولو کې وېشل شوي دي.

همدا راز د اطلاعاتو د کمیټې او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د محتسبینو له لوري، يادو کورنيو ته د نوم ليکنې، انتقال، مالي مرستو، په هیواد کې د لنډ مهاله هستوګنې او تسلیمیدو، د اسلامي نظام، صبر او زغم، ښوونې او روزنې او مهاجرت په اړه ګټور معلومات ورکړل شول.

سلګونه هغه کسان چې مسلکي او حرفوي اسناد يې درلودل وپېژندل شول او له چاوديدونکو توکو، پاکوالي، ساتنې او عامه پوهاوي په اړه راستنيدونکو ماشومانو ته پوهاوی ورکړل شو او د رواني روغتیا لپاره د لوبو او تفریح پروګرامونه هم ورته برابر شول.

## د افغان مهاجرینو د پاور لیفتینګ تیم په یونان کې اتلولي وګټله

د افغانستان د پاور لفټینګ فدراسیون وایي چې د مهاجرینو لوبډلې د یونان په سیالیو کې د اتلولۍ اتلولي خپله کړه .
دغه فدراسیون د سلواغې ۲۹مه نیټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې د وزن د پورته کولو دغه سیالي د افغانستان، عراق، ایران، فلسطین، فرانسې او جرمني د کډوالو ترمنځ په لاره اچول شوې وه .
د اعلامیې پر بنسټ، افغان لوبغاړو ٦ د سرو زرو، ۷ د سپینو زرو او ۱۰ د برونزو مډالونه ګټلي دي .
خبرځای زیاته کړه چې دغه سیالۍ د ښځو او نارینه وو له خوا د یونان د کډوالو په یوه کمپ کې ترسره شوې .



## تیم پناهجویان پاور لیفتینگ افغانستان مقیم یونان، در مسابقات این رشته به مقام قهرمانی دست یافت

مقامها در فدراسیون پاورلیفتینگ و مردان آهنین، می‌گویند مسابقات پاور لیفتینگ در میان پناهجویان افغانستان، عراق، ایران، فلسطین، فرانسه و آلمان برگزار شده بود، که ورزشکاران افغانستان، با کسب ٦ مدال طلا، ۷ نقره و ۱۰ برنز به مقام قهرمانی مسابقات رسیدند.
این رویداد ورزشی در میان بانوان و آقایان در یکی از کمپ های پناهجویان در یونان برگزار شده بود





سرپرست وزارت امور مهاجرین در حال ملاقات با مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء درنشست کمیسیون عالی رسیده گی به مشکلات مهاجرین



سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در حین جریان نشست هماهنگی با نهاد های همکار بین المللی در سطح زون شمال، در ولایت بلخ



معاون سیاسی ریاست الوزراً، از خط فرضی تورخم ولایت ننگرهار دیدن کرد



ملاقات سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با امیرحزب جمعیت علمای پاکستان




جریان توزیع مواد کمکی برای عودت کننده گان و بیجاشده گان داخلی



مولوی محمد جان خدرخیل حین امضاً تفاهم نامه بایکی از مسوولین دفاتر کمک رسان



د کندهار د سپین بولدک له فرضي پولې څخه د جبري راستنیدونکو راستنېدل



د مهاجرینو سرپرست وزیر د دیني مدرسو د فراغت په مراسمو کې د ګډون پر مهال



د یونان په اوبو کې د افغان کډوالو ډوبه شوې کښتۍ



د لغمان په مهاجرینو ښارګوټي کې د یوه ښوونځي د پرانیستې عکس



هیواد په ولایتونو کې راستنیدونکو او بې ځایه شویو ته د سولرونو د وېش بهیر



د تورخم له فرضي پولې څخه د جبري راستنېدونکو د راستنېدنې بهیر

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Refugees and Repatrations
Information and Public Relation Department

Mohajer magazine
The 21th number winter 1402



Forced return of Afghans from Pakistan through Spin Boldak Kandahar border

www.morr.gov.af Morr.af MoRR AFG Ministry of refugees and repatriation